**ليکونکی** : م .ک.بهادرا کمار (M.K.Bhadra Kumar).
**منبع او خپرېدو نيټه** : نيوز کليک «2022-05-23».
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل»

---

# د ډله ايز امنيت سا زمان تړون به داکراين په جګړه کی به نه را ښکيل شي

## CSTO Won't be Drawn Into Ukraine War

د منځنی اسيا هيڅ يو مشر حتی د اوکراين جګړې ته د CSTO لپاره د بيړنی انديښنې موضوع په توګه اشاره نه ده کړې.

*None of the leaders from Central Asia even referred publicly to the Ukraine war as a topic of urgent concern for CSTO.*



ډله ايز امنيت تړون سازمان د غړو هيوادونو مشرانو د 2022 کال د مې په 16 ، په کريملين ، مسکو کې سره وکتل

دا دحیرانتیاوړ خبره نه دي چي د ډله ایز امنیت دسازمان (CSTO) غونډه دروسي په کوربه توب د مي د میا شتي په (16) دکرملین په مانی کي داکراین دروان شخړي په اړه دایر اود (ګډ ولویدیز) په وړاندي له ښکاره اظهار نظر څخه ډډه ویا کوتاهي وکړل. د (2008) کا ل دجګړي په څیر کوم چي دروسیی اودګرجستان ترمینځ تر سره شو بیا لکه همغسی جګړی را تکراریږي ، دویلو مهم خبره داچي روسیی خپل پالیسي بل یو نهاد یا ډلی ته نه دیکته کوی بلکه تل د ډلیزو د پریکړي نظر پخپل پا لیسی کی په نظر نیسي او هیڅکله دناتو د نظامی تړون کوم چي دمتحده ایالاتو تر سرمشری لاندی خپل کړني تر سره کوی دهغه پیمان سره خپل شد ید تضاد نه ښکاره کوی .

د بیلاروس ولسمشر الکساندر لوکاشینکو په مسکو کې په دي سرمشریزه غونډه کې وویل: "دا په بشپړ ډول روښانه ده چې د شوروي اتحاد د ړنګید و څخه وروسته په اوس وخت کي ډله ایز امنیت سازمان (CSTO) اودهغه متحد ینو اود نورو مل اتحادیو له متحد فشار پرته ، ډله ایز لویدیز قوتونه به خپل فشار ته وده ورکړي ".خو ولسمشر « ولادیمیر پوتین » یوازینی بل ویناوال و چې د لوکاشینکو وینا یې واوروېدل پوتین د ناټو د پراختیا ستراتیژۍ او د هغې د پا یلو په اړه خبرې وکړې .خو د مرکزي اسیا – قزاقستان، قرغزستان او تا جکستان – او ارمنستان څخه د CSTO د مشرانو څرګندونې ښیې چې دوی متا ثر ه شوي ندي .هیڅ یو حتی د اوکراین جګړې ته په عامه توګه د CSTO لپاره د بیړنۍ اندیښنې موضوع په توګه اشاره نه ده کړې.

واشنګټن بی له شکه ځنی مسا یلو ته په ډیر دقت سره خپل پام اړولي اود جوبا ید ن اداره د مي میاشتي په اتلسمه نیټه په نیویارک د ملګرو ملتونو په مرکزي دفتر کي د قزاقستان استاذی ته دنړیوال خوراکي خوندیتوب په اړه د وزیرانوغونډی ته دګا نګړی میلمه په توګه بلنه ورکړ ،همدا رنګه دامریکي دمتحده ایالاتو د بهرني چا رو وزیر بلنکین دقزاقستان د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي مختار تیلیوبردی ته بلنه ورکړ چي د مي میا شتي په (20) نیټه د دوه اړخیزو خبرو اترو لپاره واشنګټن ته راشي.

آمریکا تل قزاقستان ته د منځنی اسیا په سیمه کې د یوه مهم شریک په توګه لومړیتوب ورکړی دی .نوکه چیری تیر وختونو ته پام واړول شي په قزاقستان کې د جنوري په میا شت کې پاځون د واشنګټن له ارزونې سره هیڅ توپیر نه درلود .لکه په استا نه کې د ولسمشر قا سم-جومارت توکایف د واک پیاوړی کول ـنو دحیرانتیا خبره دا ده چې هغه د روسیې په مشری د CSTO ځواکونو په مرسته - د متحده ایالاتو لپاره په زړه پوري کار کوي.

لکه څنګه چې واشنګټن دې ته ګوري یا پوهیږي ، چې ولسمشر توکایف، کوم چې یوپخوا نـي کارپوه یا حرفه اي ډیپلومات دي ، ددي توان لري چې د قزاقستان دولت پـه یوه «متزلزل دولت » واړوی یا هغه ته بد لون ورکړي په دې توګه، دا اټکل کوي چې اروپا او متحده ایالات کولی شي قزاقا نو سره مرسته وکړي چې هغوی له تاریخي اړیکو او پیوندونو څخه خلاص یا آزاد شي او د یو آزاد هیواد په بڼه دخپل راتلونکي په لور حرکت وکړي، کوم چې د منځنی آسیا په ټوله سیمه کې د ډومینو اغیزه لري.

بلنکن د جمعي په ورځ د بهرنیو چارو په وزارت کې له ټیلیوبردي سره په لیدنه کې په خپلو ښه راغلاست وینا کې ټول سم شیا ن یی وویل او مستقیم ټکي یا اصل ته ورسید ل –او هغه داچي "داوکراین په وړاندې د روسیې د تیري جګړه" یا د یرغل له امله کوم چې په منځنی آسیا کې به "ژوری اغیزې" ولري . ګوټ څنډ نه وکړ کوم چې داجګړه بیا په ځانګړي ډول پر خواړو، انرژی، سوداګری او نورو برخو کـې تاثیر وکړی – نو هغه څه چې د غونډې په دوام کې وویل شول هغه داچې بلینکن "زموږ ژمنه تا یید کړه چې د قزاقستا ن په ګډون پرمتحد ینواو شریکا نو با ندې د روسیې د بند یزونو اغیزې راکم کړو ".

دا داډ یا تضمین په حقیقت کې ثانوي بندیزونه ردوي او د قزاقستان لپاره به د یوې لویې مرستې په توګه راشي. یا وشمیرل شی په حقیقت کې، د قزاقستان د فوسیل تیلو لومړنی مخرج د روسیې د تورسمند ر بندر ته د نووروسیسیسک (Novorossiysk) پایپ لاین دی.که څه هم قزا قستا ن د نړی په کچه دنفتو( 12م) لوی ثابت زیرمې اودګا زلپاره( 14م ) ځای لري، اما د دې زیرمو څخه ګټه اخیستل ستونزمن ثابت شوي ځکه چې دا په وچه کې بند دی، بازار ته دتیلو انتقال اوداکتشا ف اواستخراج زیربنا ته لیږدول ستونزمن کوي . لومړی ځاي همدارنګه، له هر څه نه مخکې دروسیې بې غوري د قزاقستان د انرژۍ د صادراتو لارې په مقابل کې دی یعنی چې په لاره کی یی خنډ ونه رامینځته کوي ) دری کاله مخکې روسیې اوکراین ته د قزاقستان د تېلو او ډبرو سکرو لیږد بند کړ، چې د اورګاډي له لارې د روسیې له خاوری څخه تیریږي .

په متضاد ډول ، د قزاقستان دتیلو آزاد لیږدونه د بیجینګ په غوښتنه تر سره کیږي . قزاقستان اوس د پا یپ لاین له لارې چین ته تیل رسوي او د ګا زو موازي پایپ لاین شتون لري چې د ترکمنستا ن صا درات د قزاقستا ن له لارې لیږدوي . پداسې حال کې چې دودیز حکمت (خرد متعارف) دا و چې د چین او

مرکزي آسیا د پایپ لاین نښلول به د پراخو فاصلو له امله ممنوع یا غیرممکن لګښت ولري، **چین** د قزاقستا ن د نفتو له شرکت « KazMunaiGas »سره ستراتیژیکي پانګونې کړې او پا یله یې د **چین** ملي پټرولیم کا رپوریشن دی . چي د منځنی اسیا د انرژی مهم لوبغاړی شو، کوم چې د روسیې ګازپروم یې مات کړ.

قزاقستان د ځواړخیزوجیو پولیتیکل پالیسیو له ا غیزي پخپله ځرګندي دي . د حیرانتیا خبره دا ده چي لویدیځو شرکتونو د قزاقستان د تیلو په سا حو کې هم ډیره پانګونه کړې ده .د ویلو لپاره بس دی، واشنګټن احساس کوي چې د پخواني ولسمشر **نورسلطان نظربایف** له واکمنۍ ځخه د قزا قستا ن دانرژی اوسنی لیرد.به د راتلونکو کلونو لپاره د هغه خپلواک بهرنۍ پالیسي قوي کړي.

په داسي حال کې چې د منځنۍ اسیا په سیمه کې د واشنګټن ښکیلتیا په تیرو وختونو کې د پام وړ اپیزودیک په مرحلوی وه ، اما د **با یډ ن** اداري د خپل دوامداره پاملرنې هوډ ځرګند کړ . دا د تیر کا ل په اوږدو کې د امریکا او روسیې د اړیکو د چټک خرابید و سره سمون لري .د بهرنیو چارو وزارت د جمعې په ورځ په ډاګه وویل چې "سکرتر بلینکن اودقزاقستا ن د بهرنیو چارو وزیر **تیلیوبردي** پلان لري چې په نږدې تماس کې پا تې شي ".
دتیرې دوشنبې په ورځ په مسکو کې د CSTO سرمشریزه، د ډله ایز امنیت دتړون چي د 30 کلیزې او د دې سازمان د شلمې کلیزې سره سمون خوري، کوم دوي یو پیا وړی سیګنا ل وړاندې کړ اوهغه دا چې د روسیې او بیلاروس متحد ین د دې په پرتله داکراین په جګړه کې یو بې طرفه دریځ غوره کوي چي دوی نه د مسکو ملاتړي دي او نه یې هم مخا لف.

په هرصورت، دا باید د روسیې اود قزاقستا ن د ستراتیژیکو ملګرتیا د ځانګړتیاوو د انعکاس په توګه ونه ګڼل شي . **پوتین** له اوږدې مودې راهیسې له **توکایف** سره پیژني او کا ر کوي ، ځوک چې په 2019 کې د ولسمشر کید و دمخه د لومړي وزیر او بهرنیو چارو وزیر او د مشرانو جرګې د رییس په توګه دنده ترسره کړې .دې وویل، شا ته وګورو، روسیې خپل مجبور دلایل درلودل چې **توکایف** سره په قزاقستان کې د جنوري په پاځون کې مرسته وکړي. د داډ لپاره، د CSTO سرتیرو شتون د **توکایف** لپاره د لوبې بدلونکی و چې وکولی شو په واک کې خپله ولکه ټینګه کړي او وضعیت ثا بت او ټیکاو کړي، چې په پا یله کې یې د ولسمشر په توګه خپل دریځ بیا تا سیس کړی .

په هرصورت، د دې په پایله کې، ***توکایف*** مسکو ته هیڅ *"قرض"* نه ورکوي او په حقیقت کې د قزاقستان په داخلي یا بهرني سیا ست کې د روسیې په ګټه کوم لوی بدلون نه دی راغلی .پنځه میا شتې وروسته، موږ په ښکاره توګه لیدلی شو چې قزاقستان په اوکراین کې د جګړې ملاتړ نه کوي .

قزا قستا ن په ***ډونبا س*** سیمه کې د دوو جلا شویو **جمهوریتونو** هر ډول ډیپلوماټیک رسمیت رد کړی دی .خو قزاقستان هم تر دې دمه په دوامداره توګه د نړیوالو رایو څخه ډډه کړې، لکه په ملګرو ملتونو کې، نه د روسیې لخوا لاربښوونه شوي اقداماتو ته هوویلی اونه یې **مخالفت** کړی له بلې خوا، قزاقستان هم ټینګار کوي چې د اوکراین د شخړې په اړه به د ملګرو ملتونو اصول او نورمونه تعقیب کړي .دا یو نازک ټراپیز عمل دی چې ***توکایف*** یې په مهارت سره اداره کوي.

د ډله ایز ملي امنیت دسا زمان دغونډې پا یله د **چینا یي** کارپوها نو لپاره ناهیلی کونکي وه کوم ، چې دوی تمه درلوده او هغه داچې **هغه مشران چې** په مسکو کې راټول شوي *"لویدیځ ته یو ثابت پیغام وړاندې کړي چې د مسکو او د CSTO نورو غړو ترمنځ د اختلاف تخم کري ،"* په ګلوبل ټایمز کې د تبصرې په توګه داسی راغلی

په تبصره کې یادونه شوې: *"چینایي شنونکو ویلي چې د دوشنبې په ورځ* غونډه د اوکراین د کړکیچ او د امنیت او اقتصاد په اړه د داخلي ننګونو په منځ کې د روسیې او بلاک لپاره خورا ارزښت لري .......... د روسیې او اوکراین د شخړې په اړه، د منځنۍ آسیا هیوادونو د روسیې بشپړ ملاتړ نه دی کړی یا د لویدیځو هیوادونو په څیر په روسیه باندی نیوکه هم نه دي کړي .

---------- **په درناوي** «28-05-2022»